# شمالي وزیرستان: د ټي ټي پي ګوهر ډلې دوه ترهګر د خودکار بم جوړولو پر مهال ووژل شول

د شمالي وزیرستان ګړیوم سره نزدې سیمه زنګاړه کښې د ټي ټي پي ګوهر ډلې دوه مطلوب ترهګر د یو اتومات بم جوړولو په مهال وژل شوي دي۔

**د باوري سرچینو له مخې د ترهګرو مشر ګوهر د خودکاره بمونو جوړولو وسایل چمتو کړي وو، چې د بم جوړولو پر مهال یوه زوروره چاودنه وشوه او د ټي ټي پي دوه مهم ترهګر حاضر عرف یاسین او خلیل عرف عبدالله ځای پر ځای ووژل شول۔**





**دواړه ترهګر د اتومات بمونو په جوړولو کې ماهر وو او د بې ګناه خلکو او امنیتي ځواکونو پر ضد یې په ګنو بمي چاودنو او ځانمرګو بریدونو کې لاس درلود۔**

**د ټي ټي پي ګوهر ډلې ترهګر مشر ګوهر د خپلو مهمو ملګرو په مرګ سخت خفه دی۔**

خوارج د اسلام او ولس ضد ټول حدونه تېر کړي دي او په سیمه کې د ګډوډۍ د خورولو په هڅه کې ځانونه تا ضرر رسوي او ورځ تر بلې د جهنم لوري ته ځي۔ انشاءالله د دوزخ د مسافرو د مرګونو لړۍ به روانه وي۔